مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۰۵** (از ۹ الی ۱٦ ثور ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................ ۲

**ملي سیاست ته د حکمتیار دننه کېدل او پر هېواد يې اغېزې**

حامد کرزي ولې له حزب سره سوله ونه کړه؟ ........................ ۴

د حزب اسلامي بدلېدونکې تګلاره ........................ ۴

د حزب اسلامي د سولې ماډل او طالبان ........................ ٦

پر ملي سیاست د حکمتیار د راتګ اغېزې ........................ ٦

**تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد و تلاش‌های بهبود روابط**

از صلح با پاکستان تا تنش‌ها ........................ ۹

روابط کابل – اسلام‌آباد در سال ۲۰۱۷م ........................ ۹

سفرهای پی‌هم هیأت‌های پاکستانی به کابل ........................ ۱۰

آیندهٔ روابط کابل – اسلام‌آباد ........................ ۱۱

## مقدمه

د حزب اسلامي او افغان حکومت تر منځ د سولې هوکړه‌لیک، د دغه گوند د مشر انجنیر گلبدین حکمتیار او افغان ولسمشر اشرف غني له‌خوا د ۱۳۹۵ هـ ش کال د تلې په ۸مه نېټه لاسلیک شو. دغه هوکړه‌لیک، له نهايي لاسلیک یوه اوونۍ وړاندې د تلې په لومړۍ نېټه، د حزب اسلامي د استازي او له حکومت سره د دغه گوند د خبرو اترو د پلاوي مشر انجنیر امین کریم او د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر له‌خوا لاسلیک شوی و.

د حزب اسلامي (حکمتیار) او افغان حکومت ترمنځ د سولې د هوکړه‌لیک له لاسلیک کېدو څه باندې شپږ میاشتې وروسته د دغه حزب مشر انجنیر گلبدین حکمتیار په لومړي ځل د افغانستان په ختیځ ولایت لغمان کې را ښکاره شو او له خپلو پلویانو او نورو دولتي چارواکو سره یې وکتل. ورپسې ننگرهار او له ننگرهاره له خپلو زرگونو پلویانو سره کابل ته راغی.

دا چې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ روغه‌جوړه له کومو پړاوونو تېره شوه او کابل ته به د حکمتیار راتگ څه اغېزې له ځان سره ولري، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې په همدې موضوع شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د افغانستان ـ پاکستان د ترینگلو اړیکو د بیا ښه کولو د هڅو په اړه لولئ. په تېرو څو ورځو کې کابل ته په پرله‌پسې توگه له اسلام‌آباده درې لوړپوړي پوځي او پارلماني پلاوي کابل ته راغلل او له افغان ولسمشر او نورو دولتي چارواکو سره یې خبرې اترې وکړې. کابل ته د پاکستاني پلاویو د سفر موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د خرابو اړیکو بېرته رغول او دغه راز د شته اختلافاتو له منځه وړل ښودل شوي. د کابل – اسلام‌اباد د اړیکو دا او نور اړخونه د تحلیل په دویمه برخه کې څېړل شوي دي.

# ملي سیاست ته د حکمتیار دننه کېدل او پر هېواد یې اغېزې



تېره اوونۍ د حزب اسلامي مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار له دوو لسیزو غیاب وروسته په لغمان کې په یوه عام محضر کې راڅرګند شو. په هغه جلسه کې، د ملي شورا یو شمېر غړو او د حکومت چارواکو برخه واخیسته او دا لومړی ځل شو، چې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار له اوږدې مودې وروسته د افغان حکومت له چارواکو سره مخامخ او رسمي ناستې کوي.

ښاغلي حکمتیار په لغمان کې د یو شمېر چارواکو او خپلو پلویانو یوې غونډې ته وینا وکړه او وروسته ننګرهار ته ولاړ او هلته یې هم یوې ستر غونډې ته وینا وکړه. نوموړی د پنجشنبې په ورځ (د ثور ۱۴مه ۱۳۹٦) د خپلو پلویانو د سلګونه موټرونو په بدرګه کابل ته راغی او په ارګ کې یې د اوسني او پخواني ولسمشر، اجرائیه‌رئیس، پخوانیو جهادي مشرانو او نورو جګ‌پوړو چارواکو په ګډون په یوه ستره غونډه کې ګډون او اوږده وینا وکړه او افغان حکومت د حکمتیار تود هرکلی وکړ.

دا چې د حامد کرزي د دورې پرمهال له حزب اسلامي سره ولې د سولې تړون لاسلیک نه شو، د حزب اسلامي د مبارزې تګلاره له کومو پړاوونو تېره شوه، له حزب اسلامي سره د سولې تړون ایا له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په لاره کې یو ماډل ثابتېدلای شي کنه؛ او کابل ته د حکمتیار راتګ به پر هېواد څه اغېزې ولري؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته پرې شننه کوو.

## حامد کرزي ولې له حزب سره سوله ونه کړه؟

که څه هم دقیقه معلومه نه ده، چې حزب اسلامي (حکمتیار) د سولې په تړاو له افغان حکومت سره له څه وخت راهیسې خبرې اترې پیل کړې؛ خو د رسمي اعلامیو له مخې معلومېږي، چې دغه خبرې اترې په ۱۳۸۹ کال کې پیل شوې.

د حامد کرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې څو ځله د حزب اسلامي پلاوي د سولې د خبرو اترو لپاره کابل ته راغلل؛ خو دغو خبرو اترو تر پایه څه پایله ونه لرله او افغان حکومت د خپلو وسلهوالو مخالفینو له دغې ډلې سره کومې څرګندې پایلې او روغې ته ونه رسېد. د یوې څېړنې له مخې د ۱۳۸۹ کال له حمل څخه د ۱۳۹۲ کال تر ثور پورې د حزب اسلامي پلاوي ۱۷ ځله د سولې د خبرو اترو لپاره کابل ته راغلل. له دې نېټې وروسته د حزب اسلامي نور پلاوي هم کابل ته راغلي؛ خو دا چې ولې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ خبرې اترې ناکامې شوې، ګڼ عوامل لري؛ لکه په خبرو اترو کې د حزب اسلامي سخت دریځ او شرایط، د جګړې په ډګر کې د حزب اسلامي کم رول، په کابل کې د حزب اسلامي تر نامه لاندې د دغه ګوند د انشعابي ډلو او ځینو مهمو څېرو شتون، له حزب اسلامي سره د ځینو لوړیو په تېره بیا ځینو لوړپوړو چارواکو مخالفت او د نړیوالو او په تېره بیا د امریکا د ملاتړ نه شتون وو.

له بلې خوا د حامد کرزي په دواړو دورو کې لسګونه زره امریکایي پوځیان د جګړې په ډګر کې جنګېدل او د سولې پر ځای پر جګړې تمرکز زیات و. داسې انګېرنې هم شته، چې حامد کرزی په خپلو دواړو دورو کې د حکمتیار د پخوانیو سرسختو مخالفینو لهخوا محاصره شوی و او له دغې ډلې سره د روغې جوړې په لاره کې یې خنډونه جوړول؛ خو د حامد کرزي د دفتر رئیس عبدالکریم خُرم په اند، د حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال له حزب اسلامي (حکمتیار) سره د خبرو اترو په لاره کې ستر خنډ بهرنیان په ځانګړې ډول امریکا وه.

## د حزب اسلامي بدلېدونکې تګلاره

که چېرې د حزب اسلامي د څلورو لسیزو مبارزې ته ځیر شو، نو څرګندېږي چې دغې ډلې له څلورو پړاونو په تېرېدو سره خپله شکلي تګلاره هم تر ډېره بدله کړې ده:

**لومړی پړاو؛ د دعوت مرحله:** د حزب اسلامي د مور ډلې نهضت اسلامي یا جوانان مسلمان افغانستان د ډیموکراسۍ د لسیزې پرمهال خپله مبارزه له دعوته پیل کړه او د شته کمونیستي ډلو په مقابل کې له زیاتو

ننګونو سره هم مخ شوه؛ خو بیا هم د ډیموکراسۍ د لسیزې په پای کې یې د دعوتي بنې له کبله د هېواد په شته ډلو کې یوه له مهمو او اغېز لرونکو ډلو وشمېرل شوه. هغه مهال نهضت اسلامي د داخلي اختلافاتو ښکار شو او په دوو ډلو کې یې انشعاب وکړ.

**دویم پړاو؛ له دعوتي مرحلې تر وسلهوال پاځون:** د ډیموکراسۍ لسیزې په پای او د سردار محمد داوود خان د جمهوریت له پیلېدو سره، د حزب اسلامي (یا هم د نهضت اسلامي) د مبارزې بنې هم بدلون وموند او دغې ډلې د داوود خان پرضد وسلهوال پاځون وکړ، چې د ۱۳۵۴ عملیاتو په نامه یادېږي. د دغو عملیاتو تر شا تر ټولو ډېر رول د حزب اسلامي اوسني مشر ګلبدین حکمتیار و. دغه چلند تر ډېره د شوروي تر یرغل پورې دوام وکړ؛ خو ترڅنګ یې، د حزب اسلامي دعوتي مبارزې هم دوام درلود.

**درېیم پړاو؛ د جهاد او نظامي ځواک پړاو:** د حزب اسلامي د مبارزې درېیم پړاو، د شورویانو له یرغل سره پیل شو. هغه مهال حزب اسلامي د نورو پړاونو په پرتله په نظامي ځواک ډېر سمبال شو او د جهاد په ټول دوران کې یې مخکښ رول درلود. خو د نظامي ځواک لرلو ترڅنګ، حزب اسلامي خپله دعوتي مبارزه هم روانه ساتلې وه. د حزب اسلامي د مبارزې دا ډول له افغان حکومت سره د سولې کولو تر مهال پورې دوام وکړ؛ خو د طالبانو د امارت له راتګ وروسته یې د نظامي ځواک زور تر ډېره مات شوی و او نور حزب اسلامي د جهاد د دورې نظامي ځواک نه درلود.

**څلورم پړاو؛ دعوت او سیاسي مبارزې ته ورتګ:** د حزب اسلامي ډېری نظامي ځواک د داخلي اختلافاتو، له ځینو نورو جهادي ډلو څخه د یو شمېر هېوادونو له قوي ملاتړ او د طالبانو د رامنځته کېدو له کبله اغېزمن شو. له ۲۰۰۱ کال وروسته هم، که څه هم حزب اسلامي د امریکایي او ناټو ځواکونو پر ضد جګړه کې حضور درلود؛ خو دا شتون یې د طالبانو په پرتله تر ډېره محدود و. د دې ترڅنګ د حزب اسلامي یو شمېر کړی او افراد هم د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت سره یوځای شول. په بل اړخ کې، د جګړې په ډګر کې هم، حزب اسلامي د طالبانو تر قوي فشار لاندې و، له دوی سره د نړیوالو مرستې هم کمې شوې وې. دغه حالت او له هېواده د بهرنیانو د ډېری پوځیانو وتلو، د حزب اسلامي (حکمتیار) پر ډله اغېزه وښندله او له کبله یې شونې شوه، چې دا ډله د خپلې مبارزې بڼه بدله کړي او د وسلهوالې مبارزې پر ځای دعوتي او سیاسي مبارزه پیل کړي. همدا لامل و، چې ګلبدین حکمتیار د لغمان په ناسته کې د طالبانو پر جنګي تاکتیک سختې نیوکې وکړې، روانه جګړه یې "بیهوده" او "ناروا" وبلله.

## د حزب اسلامي د سولې ماډل او طالبان

یو شمېر شنونکي او لوړپوړي چارواکي له حزب اسلامي سره د افغان حکومت د سولې تړون په راتلونکي کې له افغان طالبانو سره د سولې د خبرو اترو لپاره یو ماډل ګڼي؛ خو پوښتنه زیږي، چې آیا داسې ممکنه هم ده او که نه؟

له حزب اسلامي سره د سولې د تړون مهمه ځانګړنه دا وه، چې دا روغه‌جوړه د بین‌الافغاني تفاهم له لارې وشوه؛ خو که چېرې د افغان طالبانو دریځ، شرایطو او د حزب اسلامي په پرتله د دوی وضعیت ته ځېر شو، نو څرګندېږي، چې له افغان حکومت سره به د دوی د سولې تړون یوازې د بین‌الافغاني تفاهم له لارې ونه شي، بلکې دوی به یو شمېر ځواکمنو هېوادونو ته د ژمنو د تضمین په برخه کې د ضمانت کوونکي په توګه اړتیا وویني.

دویم دا چې له افغان حکومت سره د حزب اسلامي د سولې تړون تر ډېره د حزب اسلامي ډلې د ابتکار پایله وه. حزب اسلامي (حکمتیار) له خپل اساسي شرط، د بهرنیو سرتېرو له وتلو، تېر شو. د سولې تړون په بدل کې یې هم تر ډېره امتیازات ترلاسه نه کړل. خو د افغان طالبانو په برخه کې بیا په دا ډول شرایطو سوله کول تر ډېره ناممکنه برېښي؛ ځکه افغان طالبان د حزب اسلامي په پرتله د جګړې په ډګر کې پیاوړي دي. اوسمهال د سیګار د راپورونو په بنسټ د هېواد ۴۰ سلنه خاوره په ولکه کې لري او ورځ تر بلې افغان حکومت د ملي حاکمیت په برخه کې ننګوي.

## پر ملي سیاست د حکمتیار د راتګ اغېزې

کابل ته د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار راتګ به د هېواد پر ملي سیاست، راتلونکو پارلماني او ولسمشریزو ټاکنو او له طالبانو سره د حزب پر اړیکو اغېزه ولري.

کابل ته د ګلبدین حکمتیار له راتګ وړاندې، د حزب اسلامي ګڼې وېشل شوې ډلې وې؛ خو د حکمتیار له راتګ سره، د حزب اسلامي په داخلي حلقو کې داسې هیلې راټوکېدلې، چې حکمتیار به یوځل بیا د حزب اسلامي وېشل شوې ډلې بیا پر ځان راټولې کړي؛ ځکه د دوی په اند دی په حزب اسلامي کې تر ټولو زیات کریزماتیک شخصیت دی او د دې کار وړتیا لري. خو دا کار ډېر هم اسانه نه دی او حکمتیار ته به یوه مهمه ننګونه همدا وي. که چېرې دا کار وشي، نو اغېزې به یې په لاندې برخو کې پراخې وي:

- **ملي سياست؛** که څه هم په ولسمشرۍ ماڼۍ کې له ګلبدين حکمتيار څخه تود هرکلی وشو او په ارګ کې د ډېرى ګوندونو د استازو خبرې هم هيله‌بښونکې او مثبتې وې. خو له دې سره‌سره بيا هم د حزب اسلامي (حکمتيار)، شيعه ډلو او جمعيت ګوند ترمنځ د ټکر ډېره شونتيا برېښي. د لغمان او ننګرهار په غونډو کې د حکمتيار له خبرو څخه هم همداسې ښکاره‌ېږي او په ورته وخت کې د جمعيت اسلامي سوړ وضعيت او زياتېدونکې اندېښنې هم د دې ښکارندويي کوي. خو دا به د وخت له تېرېدو وروسته، ژوربېږي.
- **راتلونکې پارلماني او ولسمشريزې ټاکنې؛** له وروستيو څو مياشتو راهيسې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو په تړاو صفبندۍ رواني دي. د حکمتيار راتګ به د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پر دغو صفبنديو هم اغېزناک ثابت شي. دغه راز حزب اسلامي به د خپل قوي جوړښت له کبله وغواړي، چې د يوه ګوند په توګه په پارلماني ټاکنو کې برخه واخلي.
- **له طالبانو سره د حزب اړيکې؛** افغان طالبان او حزب اسلامي له پيله ترينګلې او له بې‌باوريو ډکې اړيکې لري. په لغمان او ننګرهار کې د حکمتيار وروستۍ ويناوې پر طالبانو هم راڅرخېدلې. په دغو ويناوو کې حکمتيار پر سوله‌ييز تاکتيک ټينګار وکړ او د طالبانو پر جنګي تاکتيک يې نيوکې وکړې. خو په ولسمشرۍ ماڼۍ کې حکمتيار بيا د خپلو دوو تېرو ويناوو برعکس پر طالبانو توندې نيوکې ونه کړې.
- **رسنۍ؛** هغه څه چې د حکمتيار په درييو پرله‌پسې ويناوو کې وليدل شول، په ځينو رسنيو نيوکې وې، چې د ده په وينا د افغاني او اسلامي ارزښتونو برعکس خپروني کوي. يو شمېر رسنيو د حکمتيار پر دغو خبرو توند غبرګون ښوود. که څېرې د حزب اسلامي دا ډول تودې نيوکې رواني وې، نو له يوې خوا د رسنيو او حزب د ټکر شونتيا شته خو له بلې خوا په دې برخه کې د سياسي څېرو او هم عامو خلکو په کچه د نوموړي پر پلوۍ د غږونو پورته کېدو شونتيا هم شته ده، لکه څرنګه چې کريم خليلي په ارګ کې په خپلو محدودو خبرو کې د حکمتيار له همدې خبرې ملاتړ وکړ.

## تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد و تلاش‌های بهبود روابط



جنرال نوید مختار، رئیس سازمان استخبارات نظامی پاکستان یا (ISI) هفتهٔ گذشته در اوج تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد، به هدف گفتگو با مقام‌های افغان و بهبود روابط دو کشور به کابل آمد. چند روز پیش از این سفر، دو هیأت عالی‌رتبهٔ دیگر آن کشور نیز به هدف تلاش برای بهبود روابط افغانستان و پاکستان به کابل آمده بودند و با رئیس جمهور افغانستان و سایر مقام‌های بلندرتبهٔ کشور دیدار و گفتگو کردند.

سفرهای مقامات نظامی و ملکی پاکستان به کابل در حالی صورت می‌گیرد که در این اواخر روابط کابل-اسلام‌آباد بیش از هر وقت دیگر تیره‌تر شده و بی‌اعتمادی میان دو کشور به اوج خود رسیده است.

اینکه روابط کابل ـ اسلام‌آباد در زمان حکومت وحدت ملی به خصوص در چند ماه گذشته (۲۰۱۷) چگونه بود، سفرهای اخیر هیأت‌های پاکستانی به کابل چه تاثیری روی روابط دوجانبه خواهد داشت و نیز آیندهٔ این روابط چگونه به نظر می‌رسد؟ پرسش‌های اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## از صلح با پاکستان تا تنش‌ها

در کل، روابط میان کابل و اسلام‌آباد در مدت بیش از دو سال عمر حکومت وحدت ملی از دو مرحله (روابط بسیار نزدیک و سپس تنش‌های جدی و حتی درگیری‌ها میان دو کشور) گذشت. در اوایل، رئیس جمهور غنی در رابطه به مناسبات سیاسی با پاکستان اظهار داشت که هر دو کشور در یک جنگ اعلام ناشده باهم درگیر اند و نخست باید با پاکستان آشتی شود. به همین دلیل، حکومت وحدت ملی روابط با پاکستان را به گونۀ بی‌سابقه گرم‌تر ساخت و امتیازاتی را به این کشور داد.

حکومت وحدت ملی با استفاده از نزدیکی روابط با پاکستان و همزمان با استفاده از ابزار سیاست خارجی تلاش کرد تا این کشور را به همکاری صادقانه در پروسۀ صلح به خصوص حاضر کردن طالبان به میز مذاکره با حکومت افغانستان وادار کند. ولی با گذشت چند ماه، افزایش ناامنی‌ها در کشور و وقوع حملات مرگبار به خصوص در کابل و اعلام خبر درگذشت ملا محمد عمر رهبر پیشین طالبان و در پی آن شکست پروسۀ مذاکرات رو در رو با طالبان، باعث چرخش در سیاست و رابطۀ این حکومت با اسلام‌آباد شد.

تیره‌گی روابط میان دو کشور حتی باعث درگیری‌ها میان نظامیان دو کشور در بندر تورخم گردید که تلفاتی نیز برای هر دو طرف در پی داشت. حکومت افغانستان در کنفرانس‌های بین‌المللی تلاش منزوی کردن پاکستان را نیز کرد. به گونۀ مثال، رئیس جمهور افغانستان در ششمین کنفرانس قلب آسیا در هند، کمک ۵۰۰ ملیون دالری پاکستان را رد کرد و خطاب به پاکستان گفت که بهتر است این پول را در کشور خویش در مبارزه با تروریزم مصرف نماید. در کنار این، در سال ۲۰۱٦ بیش از ۵۰۰ هزار مهاجر افغان به دلیل آذار و اذیت پولیس پاکستان به کشور خود برگشتند و تجارت میان دو کشور نیز بیش از یک میلیارد دالر کاهش یافت.

## روابط کابل – اسلام‌آباد در سال ۲۰۱۷م

تنش‌ها در روابط کابل – اسلام‌آباد با آغاز سال ۲۰۱۷ و پس از حمله‌های مرگبار در افغانستان و پاکستان و نیز راکت‌پراکنی‌های پاکستان به خاک افغانستان، بیشتر شد. بعد از حمله بر زیارت لعل شهباز قلندر در ایالت سند پاکستان که مسؤولیت آنرا گروه موسوم به "دولت اسلامی" یا داعش بر عهده گرفت و بیش از ۷۰ تن کشته و حدود ۲۵۰ تن دیگر زخمی برجا گذاشت، پاکستان مرزهای خود را با افغانستان بست و مدعی شد که این حمله توسط گروه‌های مسلح از داخل خاک افغانستان سازمان‌دهی شده بود.

علاوه بر این، پاکستان دیپلوماتان افغان را نیز احضار کرد و با تقدیم فهرست ۷٦ تن را که به گفتۀ آنان در خاک افغانستان حضور دارند و بر ضد پاکستان فعالیت می‌نمایند، خواهان اقدام حکومت افغانستان برای گرفتاری و سپردن آنها شد. در مقابل حکومت افغانستان نیز فهرست افراد و مراکزی را که در پاکستان وجود دارد و بر ضد حکومت افغانستان فعالیت‌های جنگی خویش را سازمان‌دهی می‌کنند، به اسلام‌آباد سپرد.

در اوج این تنش‌ها تلاش‌هایی برای بهبود روابط میان دو کشور آغاز شد و به میانجیگری بریتانیا، حنیف اتمر مشاور امنیت ملی افغانستان با سرتاج عزیز مشاور امنیت ملی پاکستان در یک نشست سه‌جانبه (۱۵ مارچ ۲۰۱۷) در لندن دیدار و گفتگو کرد، ولی نتائج ملموسی را در پی نداشت.

از سوی دیگر، به قول روزنامۀ پاکستانی "دان" به نقل از منابع دیپلوماتیک ایالات متحده، مقام‌های امریکایی نیز در گفتگو با مقام‌های افغان و پاکستانی تاکید کردند تا هر دو کشور میکانیزمی برای پایان دادن به اختلافات شان را ایجاد کنند.

پس از آن در نخستین اقدام، پاکستان برای کاهش تنش‌ها در روابط دوجانبه، مرزهای خود را با افغانستان پس از حدود یک ماه دوباره باز کرد و در چند روز اخیر سفرهای پی در پی سه هیأت عالی‌رتبۀ پاکستانی به کابل، تلاش دیگری برای بهبود روابط میان کابل و اسلام‌آباد به شمار می‌رود.

## سفرهای پی‌هم هیأت‌های پاکستانی به کابل

هیأت نظامی ارتش پاکستان که در رأس آن جنرال بلال اکبر رئیس ارکان قوای زمینی اردوی پاکستان قرار داشت (در ۲۷ اپریل) به کابل آمد. این هیأت نظامی پاکستان در جریان سفر خویش با جنرال طارق بهرامی سرپرست وزارت دفاع و جنرال شریف یفتلی لوی درستیز افغانستان دیدار و گفتگو کرد. در این دیدار هر دو طرف "تروریزم" را دشمن مشترک افغانستان و پاکستان خواندند و تأکید کردند که به همکاری و گسترش روابط دو جانبه، امنیت و ثبات در هر دو کشور تامین می‌گردد. این هیأت نظامی پاکستان تعهد کرد که به هیچ گروهی اجازه نخواهد داد تا از خاک پاکستان برضد افغانستان استفاده کند.

دو روز بعد از سفر هیأت نظامی پاکستان (در ۲۹ اپریل) یک هیأت ۱۵ نفری پارلمان آن کشور به ریاست ایاز صادق رئیس پارلمان پاکستان به کابل سفر کرد. در این هیأت سران برخی احزاب سیاسی پاکستان نیز وجود داشت و با رئیس جمهور، رئیس اجرائیه، حامد کرزی رئیس جمهور پیشین و رؤسای مجلسین شورای ملی

افغانستان دیدار و گفتگو کردند. هدف این سفر نیز بهبود روابط میان افغانستان و پاکستان و از بین بردن اختلافات موجود عنوان شده است. در دیدار میان مقامات افغان و هیأت پارلمان پاکستان، کابل خواهان عملی شدن تعهداتی شد که جانب پاکستان جهت همکاری در تامین صلح و ثبات در افغانستان سپرده بود. هیأت پارلمان پاکستان اطمینان داد که بر حکومت خویش برای عملی کردن این تعهدات فشار خواهد آورد. در عین حال هیأت پارلمان پاکستان از رئیس جمهور پیشین و رئیس اجرائیهٔ کشور دعوت کرد تا از پاکستان دیدن کنند که این دعوت از سوی حامد کرزی و داکتر عبدالله پذیرفته شده است.

جنرال نوید مختار که حدود پنچ ماه پیش به عنوان رئیس سازمان استخبارات نظامی پاکستان یا (ISI) تعیین شده است، نیز به تاریخ ۲ می (۲۰۱۷) به کابل آمد و با رئیس جمهور غنی و سایر مقامات افغان روی مسایل مربوط دو کشور بحث و گفتگو کرد. هرچند جزئیات دیدار رئیس جمهور با رئیس استخبارات پاکستان بیشتر روشن نشده است، اما برخی رسانه‌ها با نقل از منابع معتبر حکومتی گفته اند که اشرف غنی از رئیس استخبارات پاکستان خواسته است تا در مورد برخی اسناد و شواهدی که قبلاً به مقامات پاکستانی سپرده شده، اقدامات جدی صورت گیرد. گفته می‌شود رئیس جمهور غنی با لهجهٔ جدی به او گفته است که تا زمانی روابط میان دو کشور بهبود نخواهد یافت که اقدامات مهمی که افغانستان خواهان آن است از سوی پاکستان صورت نگیرد.

در عین حال گفته می‌شود که رئیس استخبارات پاکستان از اشرف غنی دعوت نموده تا به پاکستان سفر کند، اما رئیس جمهور افغانستان این دعوت را رد کرده و گفته است «تا زمانیکه از جنگ در افغانستان کاسته نشود و کابل در مورد نیت نیک پاکستان مطمئن نشود، به آن کشور سفر نخواهد کرد».

## آیندهٔ روابط کابل – اسلام‌آباد

سفر سه هیأت بلندرتبهٔ پاکستان در چند روز گذشته نشان می‌دهد که اسلام‌آباد خواهان بهبود روابط با کابل است و از افزایش تنش‌ها در روابط با همسایهٔ خویش نگران است، چون این کشور به دلیل فشارها و موقف تند حکومت افغانستان و جامعهٔ جهانی در مورد همکاری پاکستان با پروسهٔ صلح افغانستان، منزوی شده است.

از سوی دیگر، به نظر می‌رسد ادارهٔ جدید ایالات متحده در حال تقویت و گسترش روابط با افغانستان است و در این اواخر دو مقام بلندرتبهٔ امریکا به افغانستان سفر کرد، پاکستان از روابط با ایالات متحده پس از روی‌کار

آمدن دونالد ترامپ به حیث رئیس جمهور آن کشور در هراس است، چون ترامپ در مورد پاکستان نظریات تند دارد و چند سال پیش نیز گفته بود که «حضور ما در افغانستان برای مهار کردن پاکستان نیز مهم است.»

اکنون به نظر می‌رسد که حکومت افغانستان این‌بار در بهبود روابط با پاکستان از پیش‌شرط‌های خویش به آسانی گذشت نخواهد کرد و نظر به موقف حکومت افغانستان، روابط میان دو کشور مربوط به همکاری صادقانهٔ پاکستان در رابطه به پروسهٔ صلح افغانستان است. حکومت افغانستان عملی ساختن تعهدات پاکستان را یکی از پیش‌شرط‌های مهم برای بهبود روابط با اسلام‌آباد می‌داند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.